هدايت الله هدايت ۲۰۰۹/۰۵/۱۲م

# کله چي وحشت د مدنيت ځـای نـيسي

پېړی و رژېدې، کلونه تيرسوه نسلونه يو په بل پسې سر راپورته کړ او له مينځه لاړه خو ډيرلا دغه پوښتنه اوس هم دځانه ښخه کوي چي دا ولي انسانان دخپل هسته ښخه يعني د بابا آدمه تر دې دمه پوري د تاريخ په اوږدو کي او خاصتا په شلمه پېړۍ کي چي انسان خپل کمال د تاريخي او علمي لاسته راوړونو له برکته و اوج ته ورساوه خو بياهم د د ډير فجيعو او وحشيانه جګړو سره لاس او ګرېوان دی او يو د بل رينبې باسي ؟

انسان دغه د ځمکي پر سر باندي هغه يواځني موجوددی چي په ډله ايزه توګه يو د بل په وژلو لاس پوري کوي او له مينځه يې وړي . تر اوسه هيڅ بل يو جانور او يا کم حيوان په ځانګړي توګه خپل همنوعه په داسي ډول چي انسانان يو اوبل سره وژني ، ندي وژلي او نه يې وژني، بس يوازي همدغه د بنی آدم اولاده ده چي و خپل همنوعه ته بلا اخيستی دی او يو دبل رينبې باسي . دا هماغه انسانان دي چي د ورورۍ ، اخوت، عدل، انصاف او انساني کردار دپاره د مختلفو اديانو او مذهبو د لاري د خلکو و جذبولو ته آسماني آياتونه او مځکنی رسالې لري ، په دې دواړو کي و انساني اوبشري ټولني ته دخدمت او وروليٰ دعوت ورکول کيږي . دبلي خوا بيا د ترقی، تمدن، عدالت، سولي، آزادۍ، ډيموکراسۍ، برادرۍ او امنيت ادعاوي هم کيږ ي، رقم رقم شجرې ورته جوړيږي، خو کله چي بيا د عمل ځای راسي، د ځان غوښتني او حرص ځای راسي، د استعمار او استثمار خبره را مخته سي ، نو بيا هرڅه هېر او د خپلي لويي غوښتني په خاطر د نورو انسانانو د تباهی او ګمراهۍ دپاره نادره دسيسې جوړيږي ، همدغه انسانان پرمختللي د ډله ائزي وژنو وسلې اختراعوي او د انسان پر وژنه يې کاروي ، همدغه انسانان بيا دخپلو بشري او انساني ادعاګانو پر خلاف يو دبل رينبې باسي ، او هغه هم په ډير وحشت او بربريت سره .

دغه شاني تناقضات او ادعاګاني چې انسانان يې د خپل همنوعه د وژلو دپاره لري، نو څوک نه پوهيږي چي هغه څه شاني بيان کړي؟ آيا په انسان کي دغه د حال وتنه ، په خپل سري او ځان غوښتنه ، بې رحمي او درنده ګي يوه ذاتي پديده ده او که دا د تاريخ په يوه ټاکلې مرحله کي د بشر، دغه د اشرف مخلوقاتو بني آدمانود خېلونو د سرغنه وو د يوه تمام عياره انحراف او بربريت وخواته د ښوېدو و مرحلې ته د ننه وتو يو جريان دی؟ آيا دغه شاني دويني تويولو خصلت د تاريخ په اوږدوکي ديوې خاصې تاريخي مرحلې محصول دی چي انسانان دي په دغه شاني وحشت سره د خپل همنوعه د وژلو صحنې ننداره کړي او که نور و جوهات هم لري ؟

همدا زموږ خوږمن هيواد مظلوم افغانستان به را واخلو. دلته نده معلومه چي ددې مؤمن او بې ريا هيواد خلک خدای تعالی په کومه ګناه نيولي دي چي دتاريخ په اوږدو کي د هر يرغلګر، د هر ظالم، د هرستمګر او د هر فرعون د ظلم مېچن يې پر سر چلېدلې او هر اهريمن او چپاولګر استعمارګر، چي څومره يې زړه غوښتي دي نو د خپل حرص او يرغلګری په خاطر يې ددې هيواد د مظلوم انسان سره د انسانيت په نامه د وحشي درنده ګانو په ځيرچلند کړی دی .

دا هره ورځ نه بله زموږ ولس په اور کي کبابيږي ، بېګناه افغانان، ښځې، سپين ږيري، نيلغه ځوانان مو په خپلو جونګړو او ختينو کوډلو کي په خپلو غريبانه بې دره او بې دربانه مکتبو، مسجدو او هستوګن ځايونو کي، د امريکا د متحده اياﻻتو په بې رحمانه بمباريو کي يا دهغوی د پوځيانو لخوا د طالب يا ټروريسټ په نامه د خپل ژوند هستي او مستي دلاسه ورکوي او په ينو کي لمبيږي .

تازه مثال يې همدا د امريکايې ځواکونو په هوايي بريد کې د فراه ولايت د بالابلوک د ولسوالۍ پر ملکي کسانو باندي بې رحمانه بمباردمان او عام وژنه وه چي لويه انساني غميزه يې هست کړه . په دې هوايي بمبارۍ کي ګڼ شمېر ملکي کسان ، بېوزلي ښځې، کوچنيان سپين ږيري او ځوانان يو مخ تباه او د يو سلو اووه څلويښت نه زيات بې ګناه مظلوم افغانان پکښې شهيدان سوه . ته به وائي چي داسي بې رحمانه عام وژنه د متمدني او کمپوټري جګړو لاسته را وړني دي چې تر هر وخت زيات بشري فاجعې را زېږوي او عام ملکي عوام په نښه کوي . آيا ډيموکراسۍ ته د ننوتلو او د ټروريزم سره د مبارزې ميتوډونه ، د خپل ځان امنيت او مدنيت او نوي بشري نړۍ ته د رسېدو لاري بايد د دغه شاني وحشت او بربريت څخه تيرسي ؟


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املايی و انشايی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بداريد.

خو واقعیت دادی چي دغه شاني انساني فاجعې هره ورځ ، هره اوونۍ ، هره میاشت او هر کال په همدې نومو او مفاهیمو تکرار در تکرار یږي ، او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي دغه شاني بشري غمجن مصیبتونه او تراژیدۍ د هري جګړې په بهیر کي لیدل کیږي .

اوس خو د ترورېستانو سره د جګړې یا د ډیموکراسۍ داعادې، د بشري حقوقوڅخه ساتنه او یا د ځان د امنیت په خاطر د نورو هیوادو د ډله ائزو وژنو دوسلو امحا او یا په ظاهره د القاعدې او طالبانو د بنسټپالني سره د مبارزې په نامه، د امریکا متحده ایالاتو او د هغوی اندیوالانو دغه نړۍ وال تهاجم دافغانستان او عراق غوندي هیوادو څخه را پیل کړی او هري خواته ځان غزوي، خو، ددېنه چي څوک شاته ولاړسي او د هغه نه چي لا ډېر نور هم شاته ولاړسي ، نو په تېرو څلورزرو کالوکي انساني تمدن به ښایی دنن ورځي په معنی یوازي درې سوه کاله د سولي په ماحول کي اوسېدلی وي، پاتي تېر تاریخ دیوه سره په همدغه شاني یرغلو، خپل مینځي جګړو، وژنو، د پردو پر خاوره باندي تهاجم او په یو ډول نه بل، د عقایدو د جګړو او د نورو د مځکو د لاندي کولو په خاطر نړۍ د پوځي لانجو په ګرداو کي غوټې وهلي دي او لویې تباهۍ ئې را وستلي دي .

په لومړۍ او دوهمه نړۍ واله جګړه کي لږ تر لږه۱۱۰ میلیونه انسانان ووژل سوه . داسی اټکل کیږي چي دبشریت په تاریخ کي به د جګړو په لړ کي به تر یوه میلیارډه زیات انسانان وژل سوي و ي . یوازي ددوهمي نړۍ والي جګړې په جریان کي، د جګړې په بېلابېلوجبهو کي د پنځوسو میلیونو نه زیات انسانان ووژل سوه .
دغه جګړه به ښایي د بشر په تاریخ کي تر ټولو خونینه او وحشیانه جګړه وه. د انساني تلفاتو دغه وحشتناکه شمېره دغه واقعیت څرګندوي چي دغرب تمدن پرځای ددې چي و انسانانو ته آرامي او هوساینه راولي د یوه داسي جنون او وحشت په فضا کي ګرفتاره ده چي بس یوازي د انسانانو په عام وژنه کي وخپل ځان ته تسل ورکوي او په همداسې تسل سره غواړي ځان و خپلو شیطاني اهدافو ته ورسوي .

د دوهمي نړۍ والي جګړې اخلاقي بار په دې کي هم خورا زیات وو چي د نن په شان د عام ولس پر استوګن ځایو باندي بې وقفې او ړندې بمباری کولې ، په هیروشیما او ناکاساکي کي پر ملکي خلکو باندي د اټوم بمب استعمال سو ، په جرمني کي د آدم سوزۍ د اور کورې جوړي سوې،په میلیونونه انسانان وجبري کوچ ته اړ ایستل سوه، سیاسي تبعدونه اوپه اشغالي سیمو کي انساني ضد خشونتونه او وحشتونه را مینځته سول . دا ټوله تر دا اوسه پوري د ماشیني او تمدن په عصر کي د بشري وجدان پر لمن باندي تور داغونه دي چي قضاوت یې عام ولسونه او تاریخ کوي .

د ۲۰۰۳ کال نه را وروسته څه نا څه دېرش لوی او کوچني بهرنۍ او کورنۍ جګړې په عراق، افغانستان، فلسطین، بروندي، کولمبیا، کانګو، هنداوپاکستان ( دکشمیر پر سر)، سیرالانکا، اندونیزیا، سوډان، پیرو، فیلیپین، روسیه (چچن) او یوګندا کښي، جریان لري . د دې ټولو جګړو سازماندهنده ګان چي نن یې په سر کي د امریکا متحده ایالات ولاړ دی هماغه استعماري هیوادونه دي چي ځانونه د دوهمي نړۍ والي جګړې ګټونکې بولي او نړۍ یې په خپلو مینځو کي سره وېشلېده .

په داسي حال کي چي فکر کیږي بشري ټولنه د اطلاعاتي او اړیکو په عصر کي د یوه نړۍ وال کلي په دننه کي ژوند کوي ،خو د نړۍ عامه افکار لا تر اوسه د ځینو جګړو په ماهیت ناخبره دي . ان په امریکا کي ګڼ شمېر دپوهنتونونو شاګردان د ځینو جګړو څخه ناخبره ساتل سوي دي او که خبر هم وي نو د هغوی په اصلي ماهیت نه پوهیږي .

جګړه نه یوازي دوحشت اوبربریت نښانه ده بلکه د تاریخ په اوږدو کي د نژادپرستۍ او ملي ګرایی یوه ممثله بېلګه هم وه . کله چي یو څوک دیوه امریکایی محصل نه پوښتنه وکړي چي د ویټنام په جګړه کي د تلفاتو شمېره څومره وه، نو زیاتره به هغوی د پنځوسو زرو په شاوخوا کې یو رقم درته وښیي چي البته دغه شمېره په دې جګړه کي د هغه امریکایی وژل سوي سرتیرو او افسرانورسمي اعلان سوی رقم دی چي هغه نه پټیږي، خو دغه امریکایی محصل به دهغه یو میلیونو نه زیات ویټنامیانو دوژلو په رقم ځان ناګاره واچوي او یا که خبر هم وي نو قصداً به و نه غواړي هغه واقعي رقم یادکړي چي په همدې جګړه کي له مینځه تللي وه. په دې هم سر نه خلاصوي چي دا جګړه دڅه دپاره وه او د دوي هیواد څه حق لاره وهغه ته په داسي ظالمانه توګه زور ورکړي ؟

په امریکا کي چي ډله ائزه رسنۍ د یوه سره د یهودانو او لویو کمپراډورانو په لاس کي دی هغه جنایتونه چي د امریکا اداره یې په نورو هیوادو کي تر سره کوي، نو د عام ولس د اغفال د پاره هغه نه خپروي . همدا وجه ده چي په جګړو کې نه یوازي د تلفات او خرابیو او ورانیو اندازه د ملي ګرائی پر معیارو باندي سنجول کیږي بلکه داسي احصائیو ته اصلاً د خپرېدو زمینه نه برابریږي چي د امریکا او یا اروپا د قدرت د ماحوله څخه دباندي وي . په


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

عراق او افغانستان کي د پوځي او ملکي تلفاتو شمېره که يو تن وي او که څو تنه نو هغه يوازي د امريکا ددفاع وزارت د پوځي قومندانی لخوا په مصاحبو او د رسنيو لخوا اعلانيږي خو د افغاني او عراقي مړو او زخميانو شمېره که په ډله ايزه توګه وي که په انفرادي ډول نو هغه د جنګي خبرو او اعلانو په ګرداو کي ورک سي .

د دوهمي نړۍ والي جګړې څخه بيا تر ننه پوري د ملکي کسانو وژنه او د عامه تأسيساتو ورانی تر نورو جګړو زيات سوی دی . سره ددې چي د نړۍ وال حقوقو له مخي پر ملکي کسانو باندي حمله جواز نلري خو په دوهمه نړۍ واله جګړه کي د لويو اروپايي ښارو د هوايي حملو په شروع سره او بيا د کوريا، ويتنام، عراق او نن د افغانستان په جګړو کي ټوله ښاري او زراعتي بنيادونه او پوځي او غير پوځي هدفونه تقريباً پای پاکه تباه سوي او له مينځه تللي دي . د ويتنام په جګړه کي به ټولي هغه قصبې او په کليو او بانډو کي پراته کورونه هستوګنځايونه عمدتاً په دې خاطر چي ستراتيژيکي او تاکتيکي اهميت يې درلود د امريکايي پوځ لخوا تر بريد لاندي را تله او تباه کېدله به . په حقيقت کي په ويټنام او افغانستان کي چي کوم تاوانونه د ژوندانه ومحيط ته واړول سوه نو هغه واقعاً يوه بشري فاجعه او لوی جنايت وو چي په خواشيني سره نن هم تکراريږي .

دغه تاريخي حقيقت اوس و هر چا ته څرګنديږي چي د امريکا او غربي نړۍ زياتره تهاجمي او د خپلي سلطې د ټينګېدو اوغزېدو دپاره جګړې، په ظاهره د پرمختيا ، تمدن او انسانيت تر چتر لاندي تر سره سوي وه . نن هم چي بشري ټولنه د جګړو و اوسني شکل او ماهيت ته ګوري نو پر خپلواکه او ناتوانه هيوادو باندي دامريکا غوندي لويو قدرتو تهاجم او يرغل د همداسي فريب کارانه او غولوونکو مفاهيمو د تطبيق په نامه عملي کيږي چي همدا شېوه جهاني اخلاقيات د واقعي پستی او ابتذال و خواته شوه کوي ، او زور واکه ځواکونه د خپلو بې رحمانه عام وژنو په بهير کي خپل انساني شرافت دلاسه ورکوي .

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de